# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم　　از آن به که کشور به دشمن دهيم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


نشريه پيشرو شماره ۴۶

۱۹ فبروری ۲۰۱۳

## احمد کايا، د ترکيې د پرمختللي،

## ژمن او معترض هنر برمياله څيره

په داسي حال کي چي نږدې د پنځوسو هيوادونو سرتيري په افغانستان کي وژل او لوټل کوي او زموږ هيوادوال په بيرحمی د اسارت په کړيو کي راښکيل او يرغمل دي، هنر او ادبيات د هر وخت پرتله بايد د ولس تر څنګ د جنايتونو او کړاونو په وړاندي ودريږي او د وسلي په توګه د غليمانو په ضد وکارول شي.

دم مهال په افغانستان کي ميشت بهرني سفارتونه د خپلو فرهنګي نوکرانو له لاري مبتذل، شنډ، ارتجاعي او ښکيلاکي فرهنګ، هنر او ادبيات تبليغوي او د دي چاري لپاره يې څو درجنه تلويزيونونه او لسګونه راډيوګاني او سلګونه چاپي رسنی په لاره اچولي دي چي کار يې د ولسونو د ذهنيت مديريت دی. د دې لپاره چي ولس بوخت وساتي او په شنډ او خنثی فکر او اند يې په اصطلاح سمبال کړي، په دې رسنيزو شبکو کي داسي هنر راڅرګنديږي چي د ښکيلاک د تداوم لپاره ګټور تماميږي. په دې وروستيو کلونو کي ترکي سريالونه چي ارتجاعي ډکون، ماهيت او منځپانګه لري، په تلويزيونونو کي په دري او پښتو دوبلې سره خپريږي چي د شنډتوب، تفنن او تخديرولو پرته بل پيام او دنده نه لري.



ترکيه، د ناټو په چوکاټ کي د امريکا تر څنګ يولس کاله کيږي چي زموږ په هيواد کي بوخته ده او له جنايتکارو ټوپکمارو څخه هر اړخيزه ملاتړ کوي، څه چي اوس په سوريه کي د ناټويي ښکيلاکګرو تر څنګ تري ډډه نه کوي. که له يوې خوا په ترکيه کي يو مرتجع دولت واکمن دی چي د ولس ضد دولتونو ملاتړ کوي، له بلې خوا د هيواد ستر انقلابيان، فرهنګيالان، شاعران، هنرمندان او روڼ اندي مبارزان لري چي تل يې د ترکيې د مرتجع حکومت په وړاندې اعتراض کړی او د ولسونو تر څنګ دريدلي دي، چي له دې برمياليو څيرو څخه يو، احمد کايا دی.

احمد کايا د ترکيې مشهور ترانه ويونکی دی چي په ۱۹۵۷ کال کي د ترکيې د مالاتيا په ښار کي وزيږيد. له کوچني والي په کار اخته و او د ويکتور خارا په وينا «له پلار سره اوږه په اوږه په کار کي لوی شو». پلار يې د نساجی کارګر و. بيا يې په موټر پلورنځي کي موټرونه پريمنځل. احمد کايا چي د کورنی کوچنی غړی و، په ډيرو ستونزمنو

حالاتو کې ژوند کاوه. هغه په خپله ویل چې داسې ډېرې ورځې یې لیدلې چې ان د ښاري بس د ټکټ پیرولو توان یې هم نه درلود.

د کایا زلمیتوب د کنان اورن له کودتا سره برابر و. په دې وخت کې پر ترکیې د ویر او ډار بلا واکمنه وه او هغه په ۱۹۷۷ کال کې د یو کنسرت لپاره په پنځه میاشتو بند محکوم شو. په ۱۹۸۵ کال کې د «ګرانې مه ژاړه» په نامه البوم یې خپور کړ چې د هغه په خپله وینا د هرکلي یې دومره هیله نه درلوده او یوازې موخه یې دا وه چې د خپلو ترانو په وسیله د واکمن وضعیت په اړه خپل اعتراض ولس ته ورسوي. خو د ترکیې قضایي مامورینو د دې البوم د اغیزناکو ترانو خطر احساس کړ او دغه البوم یې د سیاسي ترانو د درلودلو له کبله له بازار څخه راټول کړ. دویم او دریم البومونه یې هم له معترضو ترانو ډک وو. خو دریم البوم یې د «شفق» په نامه د ترانې له کبله چې شعر یې د اولکو تامر و، ده ته شهرت ورپه برخه کړ. اولکو تامر، د خپلو سیاسي اندونو له امله هغه وخت د اعدام په انتظار کې و.

کایا په ۱۹۸۷ کال کې د یوسف هایال اوغلو سره آشنا شو او دغه آشنایي د دې لامل شوه چې د کایا په هنري ژوند کې نوی پړاو پیل شي. په دغه وخت کې یې د «پاخیړو» البوم خپور کړ چې ډېر شعرونه یې د اوغلو دي. او په دې ډول د کایا په ترانو کې د اعتراض اړخ لا زیات شو او په پایله کې په ترکیه کې د کلونو لپاره له کنسرت ورکولو څخه محروم شو. هغه په خپله ویل چې داسې یو څه به وکړي چې د مخالفینو له ذهن څخه یې هیڅکله پاک نشي او تل هغوی وځوروي. یوځل یې په تلویزیوني پروګرام کې وویل چې خپل کفن له ځان سره لري او هره شیبه د دې چمتووالی لري چې د آزادۍ په لاره کې قربان شي.

احمد کایا چې په اصل کې کردي و، په خپل یو البوم کې د «کاروان» په نامه یوه کردي ترانه وویله چې دې ترانې د البوم د معرفی په مراسمو کې شور او ځوَړ رامنځته کړ او ځینو هغه په یو شي او بل شي وویشت او ان د ترکیې مشهورو ترانه ویونکو لکه سردار، ابرو، معزز او... هغه ته سپکې سپورې وویلې او ویې ګواښو. په سبا یې د ترکیې مشهورې ورځپاڼې په لوی تیتر سره هغه بې شرف ونوماوه. کایا د همدې معترضې ترانې لپاره د ترکیې له یوې محکمې لخوا په داسې حال کې چې په پاریس کې و، په لسو کالو غیبي حبس محکوم شو.

د احمدکایا تپانده زړه په ۴۲ کلنۍ کې د ۲۰۰۰ کال د نوامبر په ۱۶ نیټه په پاریس کې ودرېد. د هغه مرګ ډېر شکمن و. داسې ښکاریده چې د ترکیې دولت د فرانسې دولت په مرسته هغه د کردانو د ملاتړ په تور، مسموم کړی وي. دغه شک په داسې حال کې چې په ۲۰۱۳ کال کې درې کردې ښځینه مبارزې فعالانې په پاریس کې د ترکیې دولت لخوا ووژل شوې، د پخوا پرتله لاپیاوړی شوی دی.

کایا د ترکیې ولس وسله وه، هغه وسله چې ځلا یې لا د غلیمانو سترګې بریښوي او لکه تندر د واکمنو پر ماڼۍ راغورځي. کاش زموږ سندرغاړو هم دا شهامت، وجدان او احساس درلودای چې داسې مهال چې ولسونه د بربریت او شناعت له پیر څخه تیریږي او هیواد مو بربادیږي، لږ تر لږه د هغوی دردونه او کړاونه یې انځور کړي وای، څه چې له بده مرغه څرک یې په سختۍ موندلی شو.

**دا هم د کایا یوه ترانه:**

هغو میندو ته

چې لاسونه یې پر زړونو ایښي

ځواب ورکوم.

له زندانونو خبرې کوم او

له دردونو.
بلوا کوم
ځکه چي له هغه کسانو چي
سرونه يي د خاورو لاندي کړي
ډاريږم.
پاڅون کوم
بربنډوم د لب سيرينو ډکي کوڅي
او پستي دلالاني
هيڅ نوم به مي پر شونډو زمزمه نشي
زه د ولسونو د سيند څپانده څپه يم
هغه مردکی چي پر ولس ډډه کوي.
هی، پاڅون کوم
زما شتون باور کړئ
فرياد ته مي ادامه ورکوم
او له ترلو شويو سترګو
له ممنوعيتونو
له محکوميتونو خبري کوم.
نه ډاريږم
ځکه چي د ښاپيرک په چيچلو ليونی شوی يم.
پاڅون کوم
په وينه قسم کوم چي تسليم به نشم
ملي به نشم.
د ولس له ځنګل څخه غوړيدلی ګل يم
ای بي شرفه دوکه ماره
زه هغه خنجر يم چي د جګړي اعلان کوي.
هغه مردکی يم چي الوزي
پاڅون کوم، آی ی ی !
زما شتون احساس کړئ!
ای خلکو!